۱۳



# قضاء

شرعي / قضائي / حقوقي

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله







څلورم کال، دیارلسمه گڼه ( شوال المکرم، ذوالقعده الحرام او ذوالحجة الحرام) ۱۴۴۷ هـ ق/ ۱۴۰۵ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

# قضاء

د افغانستان اسلامي امارت د ستري
محکمې درې میاشتنۍ مجله

ځلورم کال
دیارلسمه ګڼه ( شوال المکرم، ذوالقعده الحرام او ذوالحجة الحرام) ۱۴۴۷ هـ ق/ ۱۴۰۵ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

د امتیاز څښتن: ستره محکمه خپروونکی:د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

## کتنپلاوی

شیخ محمد قاسم «راسخ»
مفتي عبدالرشید «سعید»
مفتي عبدالرحمن«عزیزي»
مولوي حمدالله«محمدي»
حافظ مولوي عبدالولي «محمود»

**مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم «راشد»**

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، ستره محکمه، کابل - افغانستان
د اړیکې شمېرې: ۲۳۰۰۳۶۱_۲۳۰۲۲۶۳
برېښنالیک: publications.sc1443@gmail.com
ویب سایټ:www.supreme court.gov.af

# لړلیک


سرمقاله — اداره — ۱

د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته(۱۳ مه برخه) — مولوي عبدالرحیم «راشد» حقاني — ۳

شاهدي اداء کول — مفتي محمد اسماعیل سعادت — ۹


حدود پلي کول — مفتي عزیزالرحمن عزیزي — ۱۱

د اسلامي عدالت څانګړې خپرونه — اداره — ۱۴

د وثیقو د کندو د صحافت د طرزالعمل کتاب — اداره — ۱۸

گزارش اجراآت قضائی ستره محکمه — اداره — ۲۴

د سترې محکمې اداري راپور — اداره — ۴۲

# سرمقاله
# شرعي محاكم د حقوقو ترلاسه کولو او الهي احکامو د تطبیق مرجع!

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العالمین و الصلوة والسلام علی سید المرسلین محمد و علی آله و اصحابه اجمعین اما بعد:

دا طبیعي ده، چې په هره ټولنه کې د هغې ټولنې د وګړو ترمنځ، کله ناکله د بېلابېلو موضوعاتو پر سر شخړې او اختلافات رامنځته کېږي، چې له امله یې ډېری وخت د یوه لوري حقونه تر پښو لاندې کېږي.

شخړې او اختلافات په عمومي ډول حقوقي او جزائي بڼه لري؛ حقوقي شخړې هغه دي، چې د اشخاصو ترمنځ د ملکیت، پور، قراردادونو، میراث، کورنۍ او نورو حقونو له امله رامنځته کېږي؛ خو جزائي موضوعات بیا له هغو کړنو سره تړاو لري، چې د قانون او شرعي اصولو له مخې جرم ګڼل کېږي، لکه: قتل، غلا، درغلي، اختلاس، وهل او ټکول او داسې نور.

په پورته دواړو (حقوقي او جزائي) مواردو کې د شخړو د حل او مجرم ته د سزا ورکولو لپاره تر ټولو غوره او باوري لار محاکمو ته مراجعه ده؛ ځکه محاکم د عدالت د تأمین او د حقونو د خوندي کولو اساسي مرجع ګڼل کېږي.

عدالت د اسلامي ټولنې د وګړو د رواني او فزیکي ثبات او ارامۍ بنسټ دی او محاکم د عدالت د تأمین تر ټولو مهم او اساسي بنسټ ګڼل کېږي. محاکم د شرعي احکامو په چوکاټ کې د شخړو او اختلافاتو د عادلانه حل زمینه برابروي او حق، حقدار ته سپاري.

د محاکمو یو اساسي مکلفیت دا دی، چې د ټولنې د ټولو وګړو حقونه ورته یو شان محترم دي؛ د ټولنې هر وګړی که هغه فقیر وي یا شتمن، قوي وي یا کمزوری، مسؤول وي یا عادي شخص، د محاکمو په وړاندې یو شان حیثیت لري او هر څوک کولای شي د خپل حق د غوښتنې لپاره محکمې ته مراجعه وکړي، له همدې امله د هر شخص لپاره د خپل حق د ترلاسه کولو تر ټولو باوري مرجع محاکم دي.

دغه راز، محاکمو ته مراجعه د ټولنیز ثبات او امنیت په ټینګښت کې مهم رول لري؛ کله چې د یوه ملک او ټولنې وګړي خپلې شخړې او دعوې د شرعي احکامو په رڼا کې د محاکمو له لارې حل کړي؛ نو د شخصي دښمنیو، انتقامي کړنو او ستونزو د پراخېدو مخه نیول کېږي، چې له امله یې د ټولنې نظم، امنیت او ثبات دوام پیدا کوي.

دا هم باید هېر نه کړو، چې د شخړو د حل لپاره له قانوني او شرعي لارو پرته نورو لارو ته مخه کول ډېر وخت د ستونزو او اختلافاتو د ډېرېدو لامل ګرځي.

کله چې اشخاص د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره له شخصي زور، ګواښ، انتقام یا نورو غیر اصولي کړنو څخه کار اخلي، نه یوازې دا چې ستونزه نه حل کېږي؛ بلکې د نویو شخړو او اوږدمهاله دښمنیو زمینه هم برابرېږي؛ له همدې امله اسلام د عدالت د تأمین او د حقونو د خوندیتوب لپاره د قضائي نظام ارزښت ته ځانګړې پاملرنه کړې او مسلمانانو ته یې لارښوونه کړې چې د خپلو شخړو او اختلافاتو د حل لپاره شرعي او قانوني مراجعو ته مراجعه وکړي.

محاکم د ټولنې د وګړو ترمنځ د باور او عدالت د تأمین مهم مرکزونه دي؛ کله چې خلک ډاډ ولري، چې حقونه یې د یوې

باوري او عادلانه مرجع له خوا ساتل کېږي؛ نو پر نظام باور تقویه کېږي او د نظم او ثبات فضا رامنځته کېږي. برعکس، که د حق غوښتنې او عدالت ترلاسه کولو لپاره قانوني لارې تعقیب نشي؛ نو بې‌نظمي، ګډوډي او د خلکو ترمنځ بې‌باوري زیاتېږي.

له همدې امله، د افغانستان اسلامي امارت محاکم، چې بنسټ يې د اسلامي شریعت پر سپېڅلو احکامو ولاړ دی، له ټولو هېوادوالو غوښتنه کوي، چې د خپلو شخړو، ستونزو او دعوو د حل، د شرعي او قانوني حقونو د ترلاسه کولو او د ظلم د مخنیوي لپاره رسمي ډول محاکمو ته مراجعه وکړي.

د افغانستان اسلامي امارت محاکم هېوادوالو ته ډاډ ورکوي، چې د عدالت، انصاف او شرعي احکامو په رڼا کې به د ټولنې د هر وګړي شرعي حقوق خوندي کوي، حق به حقدار ته سپاري، د مظلوم ملاتړ به کوي، د ظالم د ظلم مخه به نیسي او مجرمینو ته به د شرعي احکامو او نافذه اصولو له مخې مناسبه سزا ورکوي او د خپلو شرعي پرېکړو پر مټ به د ټولنې د نظم، امنیت او دوامداره ثبات د تأمین لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې کوي.

د محاکمو د فعالیتونو په اړه بیا هېوادوالو ته عامه پوهاوی، د ولس او محاکمو ترمنځ د معلوماتو تبادله، د محاکمو پر ارزښت او لاسته راوړنو د خلکو خبرول او په ټوله کې د محاکمو او ولس ترمنځ فزیکي او فکري اړیکه جوړول او ټینګول بیا د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست دنده او مسؤولیت دی، دغه ریاست د خپلو چاپي، غږیزو او متني خپرونو له لارې خلکو ته د اسلامي امارت د محاکمو اصلیت ور پېژني، دوی ته ډاډ ورکوي، چې ستره محکمه او ماتحت محاکم د اسلامي شریعت او خپلو نافذه اصولو په رڼا کې د دوی حقوقي او جزائي موضوعاتو ته رسېدنه کوي.

د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د قضاء مجلې دا (۱۳مه) ګڼه د دغه ریاست د چاپي فعالیتونو یوه بېلګه ده، چې د سترې محکمې د عالي مقام، معاونیتونو، تمیزونو، د مرکزي دېوانونو/ ریاستونو، مرافعه، ښاري ابتدائیه، ولسوالیو ابتدائیه، اختصاصي او نورو ټولو محاکمو د ۱۴۴۷هـ ق کال د درېیمې ربعې قضائي او اداري کړنو او لاسته راوړنو پر راپور سربېره په کې، د هېوادوالو د عامه پوهاوي لپاره د سترې محکمې د جزا دېوان د عمومي رئیس ځانګړې مرکه، د وثایقو د کندو د صحافت طرزالعمل، د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته (۱۳مه برخه)، د شاهدي اداء کول او د عدالت پلي کولو تر عنوان لاندې مقالې هم ځای پر ځای شوې دي، تر څو يې د محاکمو منسوبین او هېوادوال په مطالعه کولو سره د محاکمو له لاسته راوړنو پر خبرېدو سربېره د یو شمېر شرعي مسایلو پر جزئیاتو هم خبر شي. هیله ده، د قضاء مجلې دغه ګڼه هم تر مطالعې وروسته په خوندي ځای کې وساتئ.

**په درنښت**

# د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته

## د راشده خلافـت په دوره کې قضاء

لیکوال: قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم «حقاني»[1] ژباړن: مولوي عبدالرحیم «راشد» حقاني



**دیارلسمه برخه**

**په راشدي دوره کې د ځینو قاضیانو یادونه:**

د راشدي دورې قاضیان په دوه ډوله وو، یو هغه، چې رسول الله (ﷺ) د قضاء پر منصب ټاکلي وو او په راشده دوره کې هم پرې پاتې شول او دوهم ډول بیا هغه قاضیان وو، چې له لومړي سر څخه په راشده دوره کې ټاکل شوي وو؛ نو موږ به له دغه دواړو ډولونو څخه یې ځینې مشهور ذکر کړو:

**د ابو بکر (رضي الله عنه) د دورې قاضیان:**

ابو بکر (رضي الله عنه) هغه لوړ رتبه قاضیان او والیان، چې رسول الله (ﷺ) ټاکلي وو، پر خپل ځای پرېښودل، د پخوا په شان یې د قضاء او ولایت چارې پر مخ وړلې او ابوبکر (رضي الله عنه) ته، چې کومې شخړې راتللې، خپله به یې د قضاء چارې پرمخ وړلې.

موږ به د ابوبکر (رضي الله عنه) قاضیان په لنډ ډول یاد کړو:

**۱-عمر بن خطاب (رضي الله عنه):**

عمر بن خطاب (رضي الله عنه) ته د ابوبکر (رضي الله عنه) د دورې پر مهال په مدینه منوره کې د قضاء چارې ور وسپارل شوې، د محارب بن دثار څخه روایت دی، وایي: کله چې ابوبکر (رضي الله عنه) ته د خلافت چارې وسپارل شوې؛ نو عمر (رضي الله عنه) یې د قضاء او ابو عبیده (رضي الله عنه) یې د بیت‌المآل پر منصب وټاکل؛ نو عمر (رضي الله عنه) یو کال تېر کړ؛ خو هېچا هم د دعوې وړاندې کولو لپاره ورته مراجعه ونه کړه.

د محارب بن دثار څخه روایت دی، وایي، چې: ماته فلاني روایت کړی دی، چې وایي: کله، چې ابو بکر (رضي الله عنه) خلیفه وټاکل شو؛ نو عمر او ابو عبیده بن جراح (رضي‌الله عنهما) ته یې وویل: بېشکه، چې ماته د مرستیالانو څخه چاره نشته؛ نو عمر (رضي الله عنه) وویل: زه د قضاء چارې په غاړه اخلم او ابو عبیده وویل: زه د بیت‌المآل چارو

۱- د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس

۲- د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس

مسؤولیت منم. [أخبار القضاة، لوکیع ۱۰۴/۱].

**۲-عتاب بن أسید (رضي الله عنه):**

رسول الله (ﷺ) د مکې له فتحې څخه وروسته عتاب بن اسید د مکې والي وټاکی؛ نو ابو بکر (رضي الله عنه) هم د ولایت او قضاء په مسؤولیت پرېښود.

**۳-عثمان بن ابي العاص (رضي الله عنه):**

دی د طائف والي وو او د رسول الله (ﷺ) له لوري ټاکل شوی وو؛ نو ابو بکر (رضي الله عنه) د ولایت او قضاء چارو د اداینې په موخه برقراره پرېښود.

**۴-ابو موسی اشعري (رضي الله عنه):**

دی په نبوي دوره کې د یمن له ځمکې څخه د زبید او رمع والي او قاضي وو او ابوبکر (رضي الله عنه) په دغه منصب پرېښود.

**۵-معاذ بن جبل (رضي الله عنه):**

دی په نبوي دوره کې د یمن د ځمکې څخه د جند والي او قاضي وو او ابو بکر صدیق (رضي الله عنه) هم په دغه مسؤولیت پرېښود.

**٦- مهاجر بن ابي امیه (رضي الله عنه):**

دی د صنعاء والي وو او د نبي کریم (ﷺ) د مېرمنې ام سلمې سکنی ورور و.

د ده نوم ولید و؛ نو رسول الله (ﷺ) ته یې خوند ور نه کړ او په مهاجر یې ونوماوه، رسول الله (ﷺ) مهاجر (رضي الله عنه) و حارث بن عبد کلال الحمیري ته د یمن لوري ته ولېږه او په تبوک کې یې د رسول الله (ﷺ) څخه سرغړونه وکړه، کله چې رسول الله (ﷺ) راستون شو، ورته په غوسه و؛ نو خور ام سلمې (رضي الله عنها) یې په اړه سپارښت وکړ او رسول الله (ﷺ) هم ومانه؛ نو بیا یې حضور ته راغلی او رسول الله (ﷺ) یې عذر قبول او ورڅخه خوشحاله شو.

رسول الله (ﷺ) دی د کنده او صدف د زکات راټولولو مسؤول وټاکه؛ نو رسول الله (ﷺ) رحلت وکړ او دی هلته لاړ نشو، بیا ابوبکر (رضي الله عنه) یمن کې له مرتدینو سره د جګړې لپاره ولېږه، کله چې له هغه ځای څخه فارغ شو، بیا خپل کار ته ولاړ او ابوبکر (رضي الله عنه) هم د هغه ځای د قضاء او ولایت په مسؤولیت باندې پرېښود.[ أسد الغابة ۲٦٥/۱].

**۷-العلاء بن حضرمي (رضي الله عنه):**

دی د رسول الله (ﷺ) لخوا د بحرین د والي او قاضي په توګه ټاکل شوی و او ابوبکر (رضي الله عنه) هم په دغه مسؤولیت پرېښود.

**۸-زیاد بن لبید (رضي الله عنه):**

دی د حضرموت والي او قاضي و، اصلاً انصاري، خزرجي او بیاضي و او ابو عبدالله یې اسم کنیه و، له خپل وطن څخه د رسول الله (ﷺ) لوري ته ولاړ او په مکه کې یې استوګنه غوره کړه، بیا یې له رسول الله (ﷺ) سره مدینې منورې ته هجرت وکړ؛ نو ده ته به ویل کېدل، چې مهاجر انصاري، همدارنګه عقبې بیعت، د بدر، احد او خندق غزاګانو او له رسول الله (ﷺ) سره نورو ټولو حالاتو کې ملګری پاتې شوی دی، رسول الله (ﷺ) حضرموت ته د مسؤول په توګه ولېږه او د ابو بکر (رضي الله عنه) په دوره کې هم د والي په توګه پاته شو.

**۹-عبدالله بن ثور (رضي الله عنه):**

عبدالله بن ثور (رضي الله عنه) د بني غوث له قوم څخه و او سیف په «الفتوح» کې څو ځایه یې یادونه کړې ده او ویلي یې دي، چې: هغه په رده کې امیر و او کله، چې رسول الله (ﷺ) رحلت وکړ؛ نو ابو بکر (رضي الله عنه) هغه ته لیک ولېږه، هغه عرب، چې د ده اطاعت کوي او همدارنګه د «تهامې» هغه خلک، چې د ده بلنې مني، راټول کړي تر څو د خلیفه امر ورته ورسېږي.

همدارنګه یې یادونه ورته کړې ده، چې هغه د مهاجر بن ابي امیه سره یوځای «جرش» ته ولاړ او هلته د امیر په توګه وټاکل شو. [الاصابة في تمیز الصحابة ۴۹/۴].

**د عمر بن خطاب (رضي الله عنه) په دوره کې قاضیان:**

د عمر (رضي الله عنه) په دوره کې اسلامي دولت پراخه شو، ډېر هېوادونه او ښارونه فتحه شول؛ نو پر هغوی یې والیان او قاضیان وټاکل، په ډېرو ښارونو کې یې قضاء له ولایت څخه بېله کړه، همدارنګه یې په مدینه منوره کې ځینې قاضیان مقرر کړل، په خپله یې هم د قضاء چارې پرمخ وړلې، د خلافت موده یې یوولس کاله وغځېده، د ده په دوره کې په یو ښار باندې مختلف قاضیان ټاکل شوي دي؛ نو له همدې امله د ده په دوره کې د قاضیانو او والیانو شمېر زیات و،

موږ یې مشهور نمونه له لنډ ژوند لیک سره ذکر کوو.

**۱-علي بن ابي طالب (رضي الله عنه):**

د عمر (رضي الله عنه) د خلافت په دوره کې د علي (رضي الله عنه) قضاء په مدینه منوره کې مشهور ه وه، تر دې، چې د عمر (رضي الله عنه) دا جمله ډېره تکرار شوه :«قضیه شته؛ خو ابو الحسن [علي(رضي الله عنه)] ورته نشته».

**۲-زید بن ثابت (رضي الله عنه):**

ابو سعید زید بن ثابت، د رسول الله (ﷺ) د جلیل القدر، فقهاوو، د میراث او نورو علومو د پوهانو صحابه کرامو له جملې څخه وو او د رسول الله (ﷺ) ملګرو به یې ډېر قدر کاوه.

د سعد بن ابي وقاص څخه روایت دی، وایي، چې: موږ د قضاء په ځینو چارو تر هغو نه پوهېدلو تر څو چې زید بن ثابت (رضي الله عنه) راښودلی نه وای.

عمر (رضي الله عنه) په قضاء وټاکه او روزي یې ورته مقرره کړه او یو وخت د عمر او ابي بن کعب (رضي الله عنهما) ترمنځ شخړه رامنځته شوه، نو زید بن ثابت (رضي الله عنه) یې ترمنځ منځګړیتوب وکړ.

د مسروق څخه روایت دی، وایي چې: ابي بن کعب (رضي الله عنه) و عمر (رضي الله عنه) ته وویل: اې امیرالمؤمنینه! زما سره د خپل ځان له طرفه انصاف وکړه، زما او د خپل ځان ترمنځ یو منځګړی وټاکه، هغه وویل: زید بن ثابت زما او ستا ترمنځ پرېکړه کوونکی دی؛ نو دوی زید بن ثابت ته ولاړل، عمر وویل: پرېکړه د هغه کور ته ورځي، زید وویل: اې امیرالمؤمنینه! دلته (کښېنه). هغه وویل: تا په ظلم پیل وکړ، ځکه زه په شخړه درته راغلی یم؛ نو هغه وویل: ښه، دلته کښېنئ، بیا دواړه د هغه مخې ته کښېناستل.

نو ابي بن کعب ته یې وویل: دوه عادل شاهدان راوړه، هغه وویل: زما سره هېڅ شاهدان نشته. هغه وویل: نو ستا پر امیرالمؤمنین باندې د قسم حق دی.

بیا یې ابي بن کعب ته مخ راواړاوه او ویې ویل: امیرالمؤمنین معاف کړه، دغه وخت کې عمر (رضي الله عنه) وویل: آیا ته د خلکو ترمنځ همداسې پرېکړې کوې؟

هغه وویل: نه، هغه وویل: نو زموږ ترمنځ هم لکه د نورو خلکو په شان پرېکړه وکړه.

نو هغه وویل: اې امیرالمؤمنینه! قسم وکړه.

عمر (رضي الله عنه) وویل: زه له دې څخه ځان ساتم، چې داسې څه وخورم چې بیا پرې قسم خوړل راته ستونزمن وي، بیا یې وویل: قسم په هغه ذات چې له هغه پرته بل معبود نشته، په دې ځمکه کې د ابي بن کعب لپاره هېڅ حق نشته. [أخبار القضاة، لوکیع:۱/۱۱۰].

**۳-یزید بن سعید (رضي الله عنه):**

هغه یزید بن سعید بن ثمامه بن اسود دی، چې په یزید بن اخت النمر سره مشهوره و، د فتحې (مکې) په ورځ مسلمان شو، له رسول الله (ﷺ) څخه یې روایتونه نقل کړي او له هغه څخه یې زوی سائب بن یزید روایت نقل کړي دی او زهري د سعید بن مسیب څخه روایت کوي، چې هغه وویل: رسول الله (ﷺ)، ابو بکر او عمر (رضي‌الله‌عنهما) هېڅوک په رسمي ډول دایمي قاضي نه و ټاکلی، تر دې چې عمر (رضي الله عنه) د خلافت په منځنۍ دوره کې هغه یزید بن اخت النمر ته وویل: زما ځینې چارې (کوچنې کارونه) په غاړه واخله. [تهذیب التهذیب:۱۱/۳۳۱].

**۴-عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه):**

هغه عبدالله بن مسعود بن غافل بن حبیب دی، هغه ډېر پخوا اسلام راوړی و او د اسلام په لومړیو کې مسلمان شوی و، هغه مهال، چې سعید بن زید او د هغه مېرمن فاطمه بنت خطاب اسلام قبول کړ او دا د عمر بن خطاب (رضي الله عنه) له اسلام راوړلو څخه ډېر مخکې وو.

د هغه د اسلام راوړلو سبب دا دی، چې خپله له عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) څخه روایت شوی، چې وایي: زه یو ځوان هلک وم او د عقبه بن ابي معیط پسونه مې څرول، ناڅاپه رسول الله (ﷺ) او ابوبکر راغی او ویې ویل:«اې هلکه! آیا شیدې درسره شته»؟

ما وویل: هو، خو زه امانتدار یم، هغه وفرمایل: «موږ ته داسې یوه مېږه راوله، چې لا نر پرې نه وي ختلی (بلاربه شوې نه وي)»؛ نو ما ورته یوه ځوانه مېږه راوستله، رسول

الله (ﷺ) هغه ونیوله، بیا یې د هغې پر غولانځي لاس راکاږه او دعاء یې وکړه، تر دې چې شیدې راووتلې، بیا ابوبکر یوه تېره راوړه؛ نو رسول الله (ﷺ) شیدې په کنبې ولوشلې، بیا یې ابوبکر ته وویل: «وڅښه» هغه وڅښلې، وروسته رسول الله (ﷺ) وڅښلې، بیا یې غولانځې ته وویل: «بېرته ولاړه شه»؛ نو هغه بېرته لکه پخوا شوه.

بیا زه ورغلم او ومې ویل: اې د الله رسوله! له دې خبرو یا له دې قرآن څخه ماته هم څه را زده کړه؛ نو هغه زما پر سر لاس کېښود او ویې ویل: «ته یو زده کوونکی هلک یې».

هغه وایي: ما له هغه څخه اویا سورتونه زده کړل او هېڅوا له ما سره په کې مقابله نه شوای کولای.

هغه لومړنی کس و، چې په مکه کې یې قرآنکریم په لوړ ږغ تلاوت کاوه او اعمش له زید بن وهب څخه روایت کوي، چې ویې ویل: کله چې عثمان بن عفان، عبدالله بن مسعود ته پیغام ولېږه، چې مدینې منورې ته راشي او هغه په کوفه کې و، خلک ورټول شول او ورته ویې ویل: دلته پاتې شه، موږ به دې ساتنه وکړو، چې تاته کوم زیان ورنه رسېږي؛ نو عبدالله بن مسعود وویل: هغه (امیر) د اطاعت حق لري او ژر به داسې فتنې او کارونه راشي، نو زه نه غواړم لومړنی کس واوسم، چې دا دروازه پرانېزي؛ نو خلک یې بېرته ستانه کړل او دی هغه ته روان شو.

عبدالله بن مسعود په ۳۲م هجري کال کې په مدینه منوره کې وفات شو او د وفات پر مهال یې عمر له شپېتو کلونو زیات و. [اسد الغابة:۳/۳۸۱]

او عمر بن خطاب (رضي الله عنه) هغه په کوفه کې د بیت‌المال او قضاء لپاره وټاکه، تر دې چې شعبي وایي: په کوفه کې لومړنی قاضي عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) و. [تاریخ القضاء، للبهي]

**۵-سلمان بن ربیعه (رضي الله عنه):**

دا سلمان بن ربیعه الباهلي دی، نبي علیه السلام زمانه یې نیولې ده، مگر د صحابیتوب درجه نه ده ور رسېدلې، لومړی کس و، چې په کوفه کې یې قضاء کړې، بیا یې په مدائن کې قضاء وکړه، چې دا خبره ابو نعیم کړې ده.

هغه د شام د فتوحاتو په جگړه کې له ابو امامه باهلي سره گډون کړی و او حضرت عمر (رضي الله عنه) هغه د کوفې قاضي وټاکه، ابو وائل وایي: ما څلوېښت سهاره پرله پسې سلمان بن ربیعه ته تگ او راتگ کاوه؛ خو هېڅکله مې ونه لیدل، چې د چا دعوه دې ورسره وي.

هغه د حضرت عمر بن خطاب (رضي الله عنه) د آسونو مسؤول هم و؛ نو ځکه به سلمان الخیل (د آسونو سلمان) ورته ویل کېدل.

حضرت عمر (رضي الله عنه) د مسلمانانو په هر ښار کې ډېر آسونه د جهاد لپاره تیار کړي وو، له دې جملې څخه په کوفه کې څلور زره آسونه وو، کله چې به دښمن پر سرحدونو برید کاوه، مسلمانان به د جگړې لپاره روانېدل، سلمان په کوفه کې د دغه آسونو سرپرستي کوله.

سلمان بن ربیعه آذربایجان ته هم د جهاد لپاره ولاړ، بیا یې د اران او خزر په لیرې سیمو کې بلنجر ته لښکر کشی وکړه، هغه په بلنجر کې د حضرت عثمان (رضي الله عنه) د خلافت په ۲۸م کال کې شهید شو.

**۶-شریح بن الحارث الکندي:**

هغه شریح بن الحارث بن قیس بن الجهم بن معاویه بن عامر الکندي، الکوفي او القاضي دی، اسم کنیه یې ابو امیه و او همدارنگه ورته شریح بن شرحبیل او ابن شراحیل هم ویل کېدل او همداسې ویل کېږي، چې هغه د فارسیانو له اولادونو څخه و، چې په یمن کې مېشت شوي وو، ابن معین وایي: هغه د رسول الله (ﷺ) په زمانه کې ژوندی و، خو له هغه څخه یې حدیث اورېدلی نه دی. حضرت عمر (رضي الله عنه) هغه د کوفې قاضي وټاکه او حضرت علي (رضي الله عنه) هم پر خپله دنده پرېښود او شاوخوا شپېته کاله د قضاء په منصب پاتې شو.

ابن المدیني وایي: شریح اووه کاله د زیاد په وخت کې د بصرې قاضي و او درې پنځوس کاله د کوفې قاضي پاتې شو.

شریح وایي: ما د عمر، عثمان او علي (رضي‌الله عنهم) په زمانه کې قضاء وکړه او تر هغوی وروسته هم تر هغه وخته پورې وم، چې له حجاج څخه مې استعفاء وکړه.

ویل کېږي، چې هغه ۱۲۰ کاله عمر درلود او له استعفاء

وروسته یو کال ژوندی پاتې شو، بیا وفات شو. [تهذیب التهذیب، ج:۴،ص:۳۲۷]

شریح د لویو تابعینو څخه و، له عمر، علي او ابن مسعود (رضي‌الله عنهم) څخه یې روایتونه نقل کړي دي.

له شعبي څخه روایت دی، چې د هغه د قاضي کېدو سبب دا و، چې حضرت عمر (رضي الله عنه) له یو سړي څخه یو آس په سوم واخیست؛ خو هغه آس زیانمن شو، نو هغه سړي له عمر سره دعوه وکړه، عمر (رضي الله عنه) وویل: زما او ستا ترمنځ یو څوک قاضي وټاکه.

هغه سړي وویل:زه په شریح عراقي خوشحاله یم.

شریح وویل: تا آس روغ او سالم اخیستی و؛ نو ته یې ضامن یې، تر هغه چې بېرته یې روغ او سالم سپارې، شعبي وایي: داسې ښکاري چې دغه خبره د عمر (رضي الله عنه) خوښه شوه، نو هغه یې قاضي وټاکه. [تاریخ القضاء لابن عرنوس،ص:۳۱].

او له شعبي څخه روایت دی، چې کله عمر (رضي الله عنه) شریح د کوفې قاضي وټاکه، نو ورته یې وویل: هغه څه چې درته د الله په کتاب کې روښانه وي، په هماغه فیصله وکړه او له هېچا څخه پوښتنه مه کوه او هغه څه چې درته په کتاب الله کې روښانه نه وي، په هغه کې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سنت تعقیب کړه او که په سنت (حدیث) کې هم روښانه نه وي، نو په خپل اجتهاد عمل وکړه. [اعلام الموقعین،ص:۱۵۰]

شریح له ډېر هوښیارو قاضیانو څخه و او د دعوه کوونکو په چلونو ښه پوه و.

شعبي وایي: ما شریح ولید، چې یوې ښځې له یوه سړي سره دعوه کوله، هغې ژړل پیل کړل او اوښکې یې تویې کړې.

ما وویل: اې ابو امیه! زما ګمان دی، چې دغه بېچاره ښځه مظلومه ده.

هغه وویل: اې شعبي! د یوسف علیه السلام وروڼه هم خپل پلار ته ماښام په ژړا راغلل. [الطرق الحکمیة،ص:۲۴].

**۷-جبر بن القشعم:**

هغه جبر بن القشعم بن یزید دی، عمر (رضي الله عنه) د مدائن قاضي وټاکه، بیا یې لیرې کړ او روایت کړل شوی دی، چې هغه لومړی کس و، چې د کوفې خلکو ترمنځ یې قضاء وکړه. [تاریخ القضاء في الاسلام، ص:۱۳۹].

**۸-ایاس بن صبیح:**

هغه ایاس بن صبیح الحنفي، چې اسم کنیه یې ابو مریم دی او عمر (رضي الله عنه) د لنډې مودې لپاره د بصرې قاضي وټاکی او د بصرې لومړنی قاضي ګڼل کېږي، بیا د ضعف له وجې د خلکو د شکایاتو په سبب یې لیرې کړ او ابن سیرین وایي: اول هغه څوک چې په بصره کې یې قضاء کړې ده ایاس بن صبیح ابو مریم الحنفي دی او په څوارلسم هجري کال کې عتبه بن غزوان د بصرې امیر (والي) و او د قضاء چارې یې ابو مریم ته سپارل شوې وې، د عتبه له مرګ وروسته مغیره بن شعبه د بصرې والي وټاکل شو، چې هغه هم ابو مریم په قضاء پرېښود، بیا وروسته عمر (رضي الله عنه) دده په اړه مکتوب ولیکی. [تاریخ القضاء في الاسلام،ص:۱۳۹].

**۹-کعب بن سور الأزدي:**

هغه کعب بن سور الأزدي نومېږي، عمر (رضي الله عنه) د ایاس بن صبیح له لیرې کېدو وروسته د بصرې قاضي وټاکی او د عمر (رضي الله عنه) تر شهادت پورې په قضاء باندې پاتې و، عثمان (رضي الله عنه) عبدالله بن عامر د بصرې والي وټاکی او هغه هم کعب په قضاء باندې پرېښود، تر هغه وخته په د قضاء په منصب پاتې و، چې بالاخره د صفین په جګړې کې د جمل په ورځ په شهادت ورسېد او دغه ورځ یې خلک سولې او جګړې پرېښوولو ته دعوت کول او د عمر (رضي الله عنه) په مجلس کې د ده ځیرکتیا او د قضاء لپاره یې اهلیت څرګند شوی و او په یوه قضیه کې یې پرېکړه وکړه؛ نو ده ته یې وویل: ولاړ شه، ته د بصرې اوسېدونکو لپاره قاضي شوې او عمر (رضي الله عنه) ورته ولیکل: ته ډېر ښه قاضي یې او کله چې عثمان (رضي الله عنه) خلیفه شو، نو کعب بن سور یې له قضاء څخه لیرې کړ او ابو موسی (اشعري) ته یې چارې وسپارلې. [تاریخ القضاء في الاسلام،ص:۱۴۰].

**۱۰-عبدالله بن قیس:**

هغه عبدالله بن قیس نومېږي، چې اسم کنیه یې ابو موسی الاشعري دی، عمر (رضي الله عنه) د بصرې قاضي او والي ټاکلی و، همدارنګه مخکې تېره شوه چې په نبوي دوره او د ابوبکر

صدیق (ﷺ) په خلافت کې د یمن قضاء چارې هم ورسپارل شوې وې او عمر (ﷺ) په لومړي ځل د کوفې د قضاء او ولایت چارې ور وسپارلې بیا د بصرې او عثمان (ﷺ) هم په بصره کې پرېښود، وروسته یې لیرې کړ او بیا وروسته یې په د کوفې چارې ور وسپارلې او علي (ﷺ) هم پرېښود، بیا وروسته یې لیرې کړ او دی په کوفه کې تر مرګه مېشت شو، چې بالاخره په ۴۴م هجري کال کې وفات شو. [سیر أعلام النبلاء،ج:۲،ص:۳۸].

**۱۱-قیس بن ابي العاص:**

هغه قیس بن ابي العاص بن قیس بن عدي بن سعد بن سهم نومېږي، هغه د مصر په فتحه کې ګډون کړی و او هلته یې ځانته کور غوره کړی و او عمر (ﷺ) د مصر قضاء چارې ور ورسپارلې او په اسلام کې لومړنی قاضي دی، چې په مصر کې یې قضاء کړې او عمر (ﷺ) په ۲۳م هجري کال کې عمرو بن العاص ته د قیس بن ابي العاص د ټاکلو په اړه خط ولیک، بیا له درې میاشتې مسؤولیت ترسره کولو وروسته وفات شو، بیا یې عثمان بن قیس بن ابي العاص د قضاء لپاره وټاکه، چې د ۲۳م هجري کال څخه بیا تر ۳۵م هجري کال [د عثمان (ﷺ) تر شهادت پورې] یې د قضاء چارې پرمخ وړلې او عثمان بن قیس په فتنه کې ووژل شو.

**۱۲-عباده بن صامت:**

هغه عباده بن صامت بن قیس انصاري خزرجي نومېږي، اسم کنیه یې ابو الولید دی او رسول الله (ﷺ) دده او د ابي مرثد غنوي ترمنځ وروړګلوي قائمه کړه. د بدر، احد، خندق او د رسول الله (ﷺ) ټولو غزاوو کې یې ګډون کړی و، رسول الله (ﷺ) هغه د ځینو زکاتونو د راټولولو لپاره وګماره او ورته یې وفرمایل: «له الله تعالی څخه ووېرېږه، داسې نه چې د قیامت په ورځ په داسې حال کې راشې، چې یو اوښ دې پر اوږه بار وي او غړمباره وهي، یا یوه غوا وي، چې آواز کوي او یا یو پسه وي، چې بغارې وهي».

هغه وویل: قسم په هغه ذات، چې تاسې یې په حقه رالېږلی یاست، زه به بیا د دوو کسانو هم مسؤولیت په غاړه وانخلم. عمر (ﷺ) هغه شام ته د قاضي او ښوونکي په حیث ولېږه او په فلسطین کې لومړنی قاضي ګڼل کېږي، عباده (ﷺ) به اهل صفې ته قرآنکریم ور زده کاوه او کله، چې مسلمانانو شام فتحه کړ؛ نو عمر بن خطاب (ﷺ) له ده سره معاذ بن جبل او ابو الدرداء (رضي‌الله عنهم) ولېږل، تر څو شام کې خلکو ته قرآنکریم ور زده او په دین یې پوه کړي، نو عباده په حمص، ابو درداء په دمشق او معاذ په فلسطین کې مېشت شول، وروسته عباده فسلطین ته ولاړ، هلته معاویه (ﷺ) په یوه مسئله کې د هغه مخالفت وکړ، چې عباده هغه ناسم ګڼله اعتراض یې پرې وکړ؛ نو معاویه (ﷺ) ورسره سختې خبرې وکړې، عباده وویل: زه به هېڅکله ستا سره په یوه ځمکه (سیمه) کې یوځای ونه اوسېږم او مدینې منورې ته روان شو، عمر (ﷺ) ورته وویل: څه شي راوستی یې؟ نو ده هم په کیسې خبر کړ، عمر ورته وویل: بېرته خپل ځای ته ستون شه، الله تعالی هغه ځمکه خوښه نه ګڼي، چې ته او ستا په شان کسان موجود نه وي او معاویه (ﷺ) ته یې ولیکل: ته پر هغه د امر حق نه لرې. [أسد الغابة،ج:۳،ص:۱۵۸].

**۱۳- ابو قرة الکندي:**

هغه ابو قرة بن معاویه الکندي نومېږي، عمر (ﷺ) د جبر بن القشعم له ګوښه کېدو وروسته هغه د مدائن قاضي کېدو غوښتنه وکړه او د هغه په وخت کې د کوفې د ښار بنسټ کېښېښودل شو، نو د هغه ځای قاضي وټاکل شو او عبدالعزیز بن أبان وایي: کوفې کې لومړنی قاضي ابو قره الکندي دی، بیا سلمان بن ربیعه او بیا عبدالله بن مسعود (ﷺ) ټاکل شوي دي.

**نور بیا...**

# شاهدي اداء کول

**لیکوال: مفتي محمد اسماعیل «سعادت»**[1].

الحمدلله، والصلاة والسلام علی سید الأنبیاء وعلی اله واصحابه نجوم الاهتداء. اما بعد:

لکه څنګه چې واضحه ده، چې په اسلام کې د مسلمانانو ترمنځ هر ډول معاملات راځي او ټول مسلمانان یو له بل سره عام او خاص حقوق لري؛ نو د دغه معاملاتو د صحت او د مسلمانانو د حق پېژندلو لپاره الله تبارک و تعالی یو قانون جوړ کړی او دنیا ته یې را لېږلی دی، چې همدغه قانون ته شرعي یا الهي قانون ویل کیږي او په دې قانون باندې باید مسلمانان خپله زندګي برابره او تېره کړي؛ خو که چېرې په دې معاملاتو کې د دوو مسلمانانو ترمنځ نزاع راشي او یا د عام او خاص حقوقو د ورکولو په باره کې نزاع منځ ته راشي، بېرته یې حل لاره شرعي او الهي قانون دی.

د دې شرعي قانون معلومول او تطبیق کول د شرعي محاکمو وظیفه بلل شوې ده، چې دا سلسله له نبوي دورې څخه را شروع او تر پېړیو پېړیو وروسته موږ او تاسو ته رارسېدلې.

اوس چې کله یو شخص محکمې ته عارض شي، یا له معروض علیه څخه د خپل شرعي حق غوښتنه کوي او یا یې د تعرض دفع غواړي؛ نو په دغه صورت کې اول محکمه عارض شخص ته جلب پاڼه ورکوي او داسې ورته پکې لیکي: فلان شخص پر تا فلان باندې د فلان شي دعوه لري؛ نو په فلانۍ ورځ باندې محکمې ته ورسره راحاضر شه.

کله چې معروض علیه شخص محکمې ته راحاضر شي؛ نو محکمه بیا اولاً د عارض عریضه تر اندراج (ثبت کولو) وروسته پر معروض علیه باندې ور عرض کوي او معروض علیه ته وایي، چې د عارض په دغه ادعاء کې څه وایې؟ معروض علیه شخص به جواباً د عارض په عریضه باندې اقرار او یا انکار کوي. که معروض علیه شخص د عارض په حق باندې اقرار وکړي؛ نو موضوع خلاصه شوه، قاضي صاحب به معروض علیه په ورکولو د حق د عارض له خپلو شرطونو سره مکلف وګرځوي او یوه شرعي مستنده پر اصولو برابره فیصله به ورته صادره کړي.

که چېرې معروض علیه شخص د عارض له دعوا څخه منکر و؛ نو بیا به محکمه عارض ته وایي، چې خپله دغه ادعا دې ثابته کړه، د اثبات د طریقو څخه یوه طریقه یې شهادت ده، چې عارض پر خپل حق باندې محکمې ته د اصولو او شرطونو برابر دوه نفره نارینه، عادلان، مقبولالشهادة شاهدان او یا یو نارینه او دوه ښځې راحاضرې کړي، تر څو د عارض په حق باندې شاهدي ورکړي.

**د شاهدي اداء کولو بیان:**

شهادة په لغت کې (خبر قاطع) ته ویل کیږي.[2] په اصطلاح کې «اخبارٌ صادقٌ في مجلس الحکم بلفظ الشهادة». یعني خبر صادق ورکول دي، په قضائي مجلس کې، د قاضي او خصمینو په حضور کې، په لفظ د أشهد سره.[3]

**د شاهدي اداء کولو شرطونه:**

د شاهدي اداء کولو شرطونه پر دوه ډوله دي، اول د تحمل شرطونه، دویم د اداء شرطونه.

**د تحمل شرطونه درې دي:**

۱- عقل: احتراز راغلی له صبي غیر ممیز او لېوني څخه.

۲- د سترګو دید: احتراز راغلی له ړانده څخه.

۳- لیدل د مشهود به.[4]

**د اداء شرطونه په لاندې ډول دي:**

۱- په دغه شاهدۍ به شاهد ته جلب د منفعت او دفع د ضرر نه وي.[5]

---

۱- د هلمند ښاري ابتدائیه محکمې د مدني دېوان مسلکي محرر

۲ - روضة القضاء، الفصل الاول في الشهادة، صـ۱۰۸، المادة ۳.

۳ - جواهر الروایات ص ۱۸. تسهیل القضاء، ص ۱۹۳، المادة ۷۱۹. مجلة الأحکام، المادة ۱۶۸۴ او اداري اصولنامه، ۱۳۹ ماده.

٤ - روضة القضاء لشیخ قاضي القضاة (حفظه الله) المادة ۲۳، ۲٤، ۲۵ صـ۱۱۲، ۱۱۳. مجلة الأحکام، ۱٦۸۸ ماده. تسهیل القضاء، صـ۱۱۳، ۱۹٦، ۱۹۷، المادة ۲۷، ۷۳۴، ۷۳٦. یادونه باید وکړو، چې د روضة القضاء له ۲۵ مادې او تسهیل القضاء له ۷۳٦ مادې څخه یو څه استثناآت شته، طبق ماده ۲٦ او ۲۷ روضة القضاء او تسهیل القضاء ۷۳۵ او ۷۳۷ ماده.

۵ - تسهیل القضاء، ۷۳۹ مادة او مجلة الأحکام المادة ۱۷۰۰.

۲- د ړانده او ګونګي شاهدي شرعاً نه قبلېږي.[۱]
۳- د کوچني او غلام مريي شاهدي شرعاً نه قبلېږي.
۴- د محدود في القذف شاهدي نه قبلېږي.
۵- د فاسق شاهدي نه قبلېږي.[۲]
۶- د شاهد او مشهود عليه تر منځ به دنيوي دښمني نه وي.[۳]
۷- شاهد به عادل وي، عادل هغه شخص ته ويل کېږي، چې ښه کارونه يې پر بدو باندې ډېر وي.[٤]
۸- د حدودو او قصاص شاهدي کې دا هم شرط دي، چې شاهد به نارينه وي.
۹- په حقوق العباد کې د شهادة د صحت لپاره سبق د دعوی شرط دی.
۱۰- شاهدي به د دعوی سره موافقه وي.
۱۱- موافقه د شاهدۍ له دعوی سره په لسو شيانو کې حتمي ده: نوع، کم، کيف، مکان، زمان، فعل، انفعال، وصف، ملک او نسبت.
۱۲- مشهود بها به شاهد ته معلوم وي.
۱۳- د حدودو او قصاص په موضوع کې به شاهد على الاصل وي، شهادت على الشهادت پکې نه قبلېږي.
۱٤- په هغو دعوو کې، چې شهادة على الشهادة پکې قبلېږي، په هغو دعوو کې د شهادت د صحت شرط دا دی، چې د اصلي شاهد حضور به متعذر وي.
۱۵- شاهدي به د محسوس خلاف نه وي.[۵]
۱٦- شاهدي به د متواتر خلاف نه وي.[٦]
۱۷- يو کس شاهد او مدعي دواړه نه شي کېدلای، د همدغه اصل پر بنياد د وصي او وکيل شاهدي د يتيم او مؤکل لپاره نه قبلېږي.[۷]
۱۸- شاهد به په شاهدۍ کې لفظ د أشهد وايي.
۱۹- شاهدان به په مشهود بها کې متفق وي.
۲۰- شاهدي به په قضائي مجلس او حضور د قاضي کې وي.[۸]
۲۱- هغه څوک چې د اسلام قواعد نه پېژني، شاهدي يې نه قبلېږي.
۲۲- هغه څوک چې متعصب وي، شهادت يې نه قبلېږي.
۲۳- هغه څوک چې مشهور بالکذب وي، شاهدي يې نه قبلېږي.
۲٤- د شراب خوړونکي شاهدي نه قبلېږي.
۲۵- د تارک الصلاة شاهدي نه قبلېږي.
۲٦- د هغه چا شهادت نه قبلېږي، چې په خپله شاهدۍ رشوت اخلي.
۲۷- د هغه شخص شاهدي نه قبلېږي، چې خپل دوکان يې شراب خرڅونکي ته په کرايه ورکړی وي.
۲۸- د هغو شاهدانو شاهدي نه قبلېږي، چې شهادت يې په حرمت مغلظه کې پنځه ورځې ځنډولی وي، په داسې حال کې چې مېړه او مېرمنې يې په خپل منځ کې د کور والا غونډې ژوند کاوه.
۲۹- شاهدي پر خپل فعل نه قبلېږي.[۹]
۳۰- پر خالص نفی شاهدي نه قبلېږي، بلکې د نفی متواتر شاهدي قبلېږي.[۱۰]
۳۱- که شاهدانو د شرابو پر څښلو شهادت ويلی و؛ نو په مشهود عليه کې به د شرابو د څښلو اثر موجود وي، لکه د شرابو بوی.[۱۱]

۱ - مجلة الأحكام، المادة ۱٦۸٦ او تسهيل القضاء، المادة ۷٤۰.

۲ - روضة القضاء، المادة ۳۱، ۳۳، ۳٤. تسهيل القضاء، المادة ۷٤۱، ۷٤۲، ۷٤۳.

۳ - روضة القضاء، ۳٦ مادة او مجلة الأحكام، ۱۷۰۲ مادة او تسهيل القضاء، ۷٤٤ مادة.

٤ - مجلة الأحكام، ۱۷۰۵ مادة.

۵ - روضة القضاء ۳۷، ۳۸، ۳۹، ٤۰، ٤۱، ٤۲، ٤۳، ٤٤ مادة او تسهيل القضاء ۷٤٦، ۷٤۷، ۷٤۸، ۷٤۹، ۷۵۰، ۷۵۱، ۷۵۲، ۷۵۳ مادة.

٦ - الفتاوى الكاملية، صـ۱۲۹، كتاب الشهادة و تسهيل القضاء، ۷۵٤ مادة.

۷ - روضة القضاء، المادة ٤٦ و مجلة الأحكام، ۱۷۰۳ مادة و تسهيل القضاء، ۷۵٦ مادة.

۸ - مجلة الأحكام، ۱٦۸۹، ۱۷۱۲، ۱٦۸۷ مادة او تسهيل القضاء، ۷۵۷، ۸۵۸، ۷۵۹ مادة .

۹ - الفتاوى الكاملية، صـ۱۲۷، ۱۲۸، ۱۳۰ او تسهيل القضاء، ۷٦۰، ۷٦۱، ۷٦۲، ۷٦۳، ۷٦٤، ۷٦۵، ۷٦٦، ۷٦۷، ۷٦۸ مادة.

۱۰ - مجلة الأحكام، المادة ۱٦۹۹ او تسهيل القضاء، ۷٦۹ مادة.

۱۱ - ردالمحتار، ج۱۱، ص ۸۱ او تسهيل القضاء، ۷۷۰ مادة.



# حدود پلي کول

مفتي عزيزالرحمن عزيزي[1]

موږ په دې باور لرو، چې په اسلام کې د ژوند ټول اړخونه په پام کې نيول شوي او په بشپړه توګه ديني، عصري، نظامي او اقتصادي سپارښتنې لري، هېڅ يو اړخ يې ګونګ نه دی، ځينې چارې چې ګونګې ښکاري، هغه هم د انسانانو د ګټې او د وخت واکمنو د مصلحت پر بنا، چې خپل نظامي، اقتصادي او ټولنيزې چارې ښې پر مخ يوسي. ټول انسانان او په ځانګړې توګه واکمن او قاضيان به د اصولو، قوانينو او اساساتو د قرآن کريم په هغه سپېڅلي کتاب، نبوي احاديثو، فقهاوو پر کتابونو او قياس پرېکړې کوي، دا هر څه نه يوازې د يو فرد، بلکې د ټولنې او نظام د ټينګښت او سوله‌ييز ژوند رامنځته کېدو لپاره تر سره کوي.

اسلام له کوچني څخه تر لويانو، له ژويو څخه تر انسانانو، له ژونديو څخه تر مړيو پورې لارښوونې او ښې تګلارې لري. له ظلم او استبداد څخه په جدي توګه مخنيوی کوي، په ښو امر او له بدو ژغورنه کوي، د اخلاقي روزنې، ښې تربيې او علمي پرمختګ هڅونه کوي.

اسلام په وروروليی، صداقت، عدالت او په امانتدارۍ ټينګښت کوي، له زور، جبر او ظلم څخه دغه راز له بد اخلاقۍ، فحشا او هغه ننګونې چې د اسلامي شريعت پلي کولو کې خنډ جوړېږي، مخنيوی کوي او هغه څوک چې په اسلامي ټولنه کې فساد خپروي، غلا، قتل او يا نور ناوړه کړنې ترسره کوي، بايد په شرعي سزا ورسيږي، تر څو د نورو خلکو لپاره د عبرت وړ وګرځي. الله تعالی وايي:

**وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يٰٓأُولِي الْأَلْبٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ [سُورَةُ البَقَرَة/۱۷۹]**

**ژباړه:** ستاسې لپاره په قصاص کې ژوند دی، په کار ده چې له دې قانون څخه سرغړونه ونه کړئ.

که څه هم په قصاص کې يو تن وژل کېږي، خو د نورو لپاره پکې ارام ژوند او ښه راتلونکی نغښتی دی.

زموږ دين اسلام نه يوازې د لمونځ، روژې، زکات او حج څرګندونه کړې، بلکې سياسي، اقتصادي او قضائي اړخ هم په قوانينو او اصولو سره سم په پوره توګه د ټولنې د اصلاح په موخه رالېږلي، د انسان د ژوند ټول اړخونه يې په پام کې نيولي، نه د نورو باطلو اديانو په څېر، چې قوانين يې خورا نيمګړتياوې لري چې هېڅ عدالت پکې نه وي.

تاسو وګورئ! په يهوديت کې د قاتل پر وړاندې هېڅ ښښنه نه وه، بلکې قاتل به هرومرو قصاص کېده، ښښنه او ديت پکې شتون نه درلوده، د عيسايانو په دين کې يوازې ښښنه وه، قصاص او ديت به نه وو.[2]

د عربو هم ځينې داسې قبيلې وې، چې تل به يې افراط او تفريط کاوه، هغه قبيلې چې پياوړې به وې د هغوی په اړه به

---

۱- ديني عالم او ليکوال

۲ - قرطبي.

بې انصافۍ پرېکړې کېدلې.
دا ټول هغه څه وو، چې د انسانیت حقوق ورباندې خوندي نه وو. یوازې د اسلام غوره دین دی، چې افراط او تفریط ته په کې ځای نه شته. معتدله لاره یې غوره کړې، واک د مقتول کورنۍ ته د قصاص، بښنې او دیت ورکول کېږي، تر ټولو غوره دا ده، چې بښنه وکړي، اسلام هم مسلمانان بښنې ته هڅوي.
اسلامي حکومت او محکمې په جنایي جرمونو او د ټولنیزو ستونزو په راکمولو کې مهم رول لري. له شرابو، نشه یې توکي، عام وژنه، چور او چپاول، غلا، یو پر بل تېری کول، دا ټول هغه څه دي، چې د انسان ژوند گواښي، انساني کرامت له منځه وړي او په ځمکه کې فساد خپروي، اسلامي حکومت ته خنډونه جوړوي او یا ترې سرغړونه کوي او د باغي په صفت پېژندل کېږي. خدای تعالی د باغیانو په اړه وایي:
**فَإِن بَغَتْ إِحْدٰىهُمَا عَلَى الْأُخْرٰى فَقٰتِلُوا الَّتِى تَبْغِى حَتّٰى تَفِىٓءَ إِلَىٰٓ أَمْرِ اللَّهِ. [الحُجرَات/۹]**
**ژباړه:** بیا که له هغو څخه یوه ډله پر بلې تېری وکړي؛ نو له تېري کوونکې (ډلې) سره وجنگېږئ، تر دې پورې چې هغوی د الله د حُکم خوا ته راوگرځي.
د سالم فکر څښتنان هېڅ وخت دا نه غواړي، چې یوه ټولنه دې نا امنه او له فساد څخه ډکه وي، د مفسدانو باید مخه ونیول شي. پوهان تل په حدودو نه پلي کولو خپه کېږي، که څه هم نن ورځ یو ډول ظلم ښکاري؛ خو په حقیقت کې سترې گټې لري، خورا مصالح لري، د دې بېلگه داسې ده، لکه یو ناروغ ته ډاکټر د عملیاتو امر ورکړي، که څه هم د پلار او مور پرې خوښه نه وي او نه غواړي چې زوی یې په چاړو پرې شي؛ خو ډاکټر د مریض پایوز ته قناعت ورکړي او د راتلونکې گټې ورته په نښه کړي، وروسته هر څه ته غاړه ږدي.
د اسلام بنسټیز امرونه، د الهي قوانینو پلي کول دي، چې د حق او عدالت تضمین دی. د عدالت اصلي سرچینه لومړی د قرآن کریم احکام پر خپل ځای، بیا پر رعیت پلي کول ستره وجیبه ده؛ ځکه هغه لوی ذات فرمایي: إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ. ژباړه: د فیصلې ټول واک د الله تعالی دی.

څوک چې د الله تعالی له حکم څخه سرغړونه کوي، هغوی د کافرانو، ظالمانو او فاسقانو له ډلې څخه گڼل کېږي، په همدې اړه الله تعالی فرمایي:
**وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُونَ،**
**وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُونَ،**
**وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُونَ.**
**ژباړه:** کوم خلک چې د الله تعالی له نازل کړي قانون سره سمې فیصلې ونه کړي، هم هغوی کافران دي. دویم آیت کې همغوی ظالمان دي، درېیم آیت کې همغوی فاسقان دي.
نعمتونه په څو ډوله دي، چې ځینې فردي، ځینې ټولنیز او عام وي. یو غوره نعمت هغه اسلامي حکومت دی، چې په دې کې د ډېرو ستونزو او ناخوالو مخنیوی، دغه راز د ټولو ناوړه کړنو ژغورنه کوي، عزتونه پکې خوندي وي، د یو بل برترۍ به پر مادیاتو نه وي، بلکې پر پوهې، کمال او معنویاتو پورې به تړاو لري. که چېرې نن ورځ د اسلامي حکومتونو نظامونه د غربي او کفري چتر لاندې د غلامۍ سیوري کې ژوند کوي، دا به د اسلامي نظام نیمگړتیا نه وي، چې له امله یې د اسلامي نظام هغه سپېڅلې او سپېنه لمن پرې داغي شي. موږ به داسې ووایو، چې دا د یو فرد او یا نظام خپله ستونزه وي.
که چېرې د اسلامي نظام ناشکري وشي، هغه د کفري دیموکراسۍ او جمهوري نظامونو تر چتر لاندې د هغوی په قیادت کې به بیا د فساد او غلامۍ شپې سبا کوي. د هېچا حقوق به پکې خوندي نه ساتل کېږي، بلکې جاهل په عالم، ظالم په مظلوم او مفسد به په مصلح واکمني کوي، نیکان به له ناوړه خلکو له زور او جبر څخه کړېږي، فریاد به یې نه اورېدل کېږي، قاضي به غل وي، پرېکړې به د واکمنو او شتمنو په حق کې ښه په زغرده سره وي، که څه هم قضا خورا ستر منصب دی، څومره چې صلاحیت لوړ دی دغه راز مسئولیت هم لوړ دی، لکه په دې اړه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) روایت دی:
**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنْ جُعِلَ قَاضِيًا بَيْنَ النَّاسِ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ.**[1]

۱ - رواه ترمذي، رقم الحدیث، ۲۳۰۸.

ابو هريره (رضی الله عنه) وايي: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: څوک چې د خلکو قاضي وګمارل شو، هغه پرته له چاړې حلال شو.

کله چې په يوه ټولنه کې قاضيان د حق پرېکړې ونه کړي، خيانت ته مخه کړي، ماده پرستي راوټوکېږي، معنويات تر پښو لاندې، بې عدالتي رامنځته شي او پر حقايقو سترګې پټېږي؛ هغه ټولنه د زوال پر لور روانه وي.

قاضي بايد خپله دنده په صحيح توګه ترسره کړي؛ ځکه قضاء عبادت دی، لکه علامه کاساني (رحمه الله) وايي: د قاضي ګمارل فرض دي؛ ځکه قاضي د يو فرض کار يعنې قضاء لپاره ټاکل کېږي، لکه الله تعالی فرمايي: ژباړه: اې داود باور وکړه، چې موږ ته په ځمکه کې خليفه ټاکلی يې؛ نو ته د خلکو تر منځ د حق پرېکړه وکړه.[1]

بل آيت کې راځي: ﴿وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ﴾. اې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته پرېکړه وکړه د دوی تر منځ په هغه څه سره، چې الله تعالی نازل کړي دي.

کله چې پرېکړې په اسلامي شريعت ترسره شي، بيا به هېڅکله داسې جرات څوک ونه کړي، چې د انسان ژوند وګواښي، د امن او ډاډمنه فضا به وي، انسان خو لا څه کوې، حيوانات به هم په مړه ګېډه خوراک کوي او مرغان به هوا کې د خوښۍ نغمې غږوي، مېږه به له لېوه څخه وېره نه لري.

په شرعي پرېکړه کې د تجارانو مالونه او سرونه خوندي وي، که څوک يې مال غلا کوي، په سارق سره پېژندل کېږي او که لوټې يې په قطاع طريق سره پېژندل کېږي، په شرعي حد سره په سزا رسېږي. هېڅ لېوه مېږې ته خوله نه شي اچولی، هر څوک به په ډاډمنه فضا کې د امن تر سيوري لاندې ژوند کوي. غريب به په خپلې غريبۍ وياړي، شتمن به پر خپلې شتمنۍ کې سخا کوي او د اړمنو خلکو لاسنيوی به کوي.

که چېرې له اسلامي نظام ورهاخوا نورو نظامونو ته سر ورښکاره کړو او ښه په دقيقه توګه يې وڅارو، له نظامي اړخه نېولې تر ديکتاتورۍ پورې، له اقتصادي اړخه يې نېولې تر سياسي پورې، ټول په دروغو او بې بنسټه خبرو ولاړ دي، د شتمنو حقوق پکې خوندي او له قانون څخه مستثنا دي، هر قانون چې پلي کېږي هغه پر غريب او ناچاره خلکو وي، ستره بېلګه يې تېر نظام و، چې د يو څو مافيايي کړيو له امله د تجارانو مالونه او شتمني پکې خوندي نه وه، تجارانو خپله شتمني نه شواى څرګندولی او په بازار کې پانګونه هم په زړه نا زړه توګه ترسره کېده. که چېرې يې له سرمايې څخه څوک خبر شوي واى، زامن يې ترې اختطاف کول، يا به په لاره کې لوټ کاوه. که به د يو تن سره ښه وسايط وليدل شو، نه يوازې وسايط يې ترې غلا کاوه، بلکې په همدې خپل موبايل پسې يې واژه. ډېرې داسې ناوړه پېښې رامنځته شوې، چې تاريخ ليکونکي يې په ليکلو شرمېږي.

لکه څرنګه چې د اسلامي حکومت ارزښت زيات دی، دغه راز مسئوليت يې هم خورا زيات دی، تر ټولو مهم هغه د شريعت قوانين او حدودو پلي کول، بيا د خپل رعيت غوښتنې پر ځای کول، د جرمونو مخنيوی کول او له فساد څخه خلک راګرځول دي.

په دې ښه پوهېږو، چې هېڅ يوه ټولنه او يا يو ملک پرته له فساده نه وي، که چېرې جرم او فساد نه واى بيا به محکمې او قضاياوې هم نه وې، محکمې د همدې لپاره وي، چې تر څو د فساد کچه راټيټه کړي.

اسلامي نظام نه يوازې د انسانانو لپاره، بلکې د ټولو ژويو او حيواناتو له پاره ستر رحمت او د سر سيوری دی، د ناچارو او مظلومانو د دفاع لپاره کلک ډال دی، د عزت او ناموس خوندي ساتنې غوره قلعه ده، د حقوقو ستره محکمه ده او د ټولو مومنانو لپاره ستر ځواک دی، بايد حدود پلي شي، څو په ښه توګه د اسلامي نظام ساتنه وشي.

[1] - ص، ٢٦.



# د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) ځانګړې مرکه

**لومړۍ پوښتنه:** محترم مفتي درویش صاحب! د سترې محکمې اساسي مسؤولیتونه څه دي؟

**ځواب:** تر ټولو لومړی تاسو ته او ستاسو په وساطت د دې مرکې لوستونکو ته: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! ستاسو د پوښتنې په ځواب کې، چې د سترې محکمې اساسي مسؤولیتونه څه دي؟ باید ووایم، چې ستره محکمه، د اسلامي نظام له مهمترینو ارګانونو څخه ده، چې اصلي مسؤولیت یې د اسلامي شریعت او نافذه قوانینو پر بنسټ د الهي عدالت تأمین او د خلکو د حقونو ساتنه ده، د ظلم مخنیوی او په ټولنه کې د شرعي قانون حاکمیت دی، د افغانستان اسلامي امارت د محترم مشرتابه لخوا سترې محکمې او د سترې محکمې ټولو ماتحت محاکمو ته دنده سپارل شوې، چې د افغانستان په هره سیمه کې د مراجعینو دوسیو ته د اسلامي شریعت د احکامو مطابق په ټاکلي وخت رسېدنه وکړي، له ظالمانو د مظلوم حق واخلي او مجرمینو ته د دوی د جرم مطابق سزاګانې ورکړي؛ الحمدلله د دغه کار په نتیجه کې، تاسو او د افغانستان ټول ولس شاهد دی، چې د اسلامي امارت له فتحې وروسته په ټول ملک کې د پام وړ مثبت بدلون راغلی دی، څوک هم د جرم ترسره کولو جرئت نه کوي او هر څوک په ډاډه زړه خپل مشکلات او شخړې که هغه حقوقي وي که جزائي وي، مربوطه محاکمو ته وړاندې کوي.

**دویمه پوښتنه:** مفتي صاحب محترم تاسو ووېل، چې ټول هېوادوال د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره محاکمو ته مراجعه کوي او محاکم د دوی دوسیو ته په ټاکلي وخت د اسلامي احکامو په رڼا کې رسېدنه کوي، زموږ پوښتنه داده، چې که یو څوک د محکمې په پرېکړه راضي نه وي یا شکایت ولري، آیا سترې محکمې د دغه کسانو د شکایت اورېدو لپاره څه اسانتیاوې رامنځته کړې دي؟

**ځواب:** د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې حتی الامکان د مراجعینو لپاره ډېرې زیاتې اسانتیاوې رامنځته کړې دي، داسې

